This project is co-funded by the European Union Asylum, Migration and Integration Fund. Making management of migration flows more efficient across the European Union.

# د کډوال ګډون :1

## د کډوال ګډون څه شی دی او ولې مهم دی؟

ډېری خدمتونه په انګلستان کې خپلو پیرودونکو ته غږ او فرصتونه ورکوي څو د خدمتونو د چمتو کولو پر څرنګوالي اغیزه وکړي. دې ته 'ګډون' ویل کیږي. دا پاڼه تشریح کوي چې ګډون څه شی دی او د هغو ګټو او خدمتونو په اړه چې تاسو ورته لاسرسی لرئ، معلومات درکوي.

کله چې تاسو یورکشایر او همبرته ورسیږئ، کولی شئ ډېری بېلابېلو خدمتونو ته لاسرسی ومومئ څو ستاسو د ژوند په بیارغونه کې مرسته وکړي. په دې کې روغتیایي خدمتونه، ښوونه او روزنه، کتابتونونه، کورونه، خیراتونه او نور شامل دي. د خدمتونو ډولونه چې تاسو ورته لاسرسی لرئ په مختلفو فکتورونو پورې اړه لري لکه ستاسو د کډوالۍ وضعیت او ستاسو اړتیاوې.

ځینې خدمتونه د مرکزي او محلي حکومت لکه ښوونځي، د کور مشوره، خیریه ګټې، د روغتیا ملي خدمت (NHS)، یا پولیس، لخوا چمتو کیږي. نور خدمتونه د خصوصي شرکتونو یا افرادو لخوا چمتو کیږي. سربېره پر دې ځینې نور خدمتونه د خیریه موسسو او رضاکارانه سازمانونو لخوا هم چمتو کیږي.

ځینې وختونه ښایي تاسو له ځینو خدمتونو څخه کافي ملاتړ ترلاسه نه کړئ. د مثال په توګه تاسو ممکن د شفاهي ژباړونکو ملاتړ ته اړتیا ولرئ، خو دا تل نه چمتو کیږي. یا کیدای شي له تاسو څخه وغوښتل شي چې د لیدنې لپاره د اوږده واټن سفر وکړئ او هلته د رسیدو لپاره هڅه وکړئ.

دا کیدی شي ناهیلی کوونکی وي او ښایي داسې احساس وکړئ چې باید ستاسو لپاره زیات ملاتړ یا غوره خدمتونه چمتو شي. حتا که د خدمتونو چمتو کوونکي خپل غوره کار هم کوي، تاسو ممکن احساس وکړئ چې دوی ستاسو له ځانګړو اړتیاوو خبر نه دي. تاسو کولی شئ په دې حالتونو کې له هغوی سره خبرې وکړئ، څو دوی ستاسو نظرونه واوري او په نظر کې یې ونیسي.

## ګډون څه شی دی؟

په ګډون کې لاندې موارد شاملیږي:

- د خدمتونو په اړه ښه معلومات ترلاسه کول.
- د خدمتونو په اړه خپل نظرونه شریکول.
- د خدمتونو په اړه په پرېکړو کې دخیل پاتې کیدل.

ګډون د خدمتونو له چمتو کوونکو، سازمانونو او ټولنو سره ستاسو پوهه، مهارتونه، نظرونه او اندیښنې شریکول دي او د ګډون لپاره بېلابېلې لارې شتون لري. د مثال په توګه تاسو کولی شئ د هغه څه په اړه چې ستاسو په سیمه کې شتون لري د ښې خبرتیا له لارې برخه واخلئ یا هغو خدمتونه چې ورته اړتیا لرئ په عملي کولو کې برخه واخلئ.

د عامه ګډون نړیواله ټولنه د ګډون پنځه بېلابېلې کچې مشخصوي:

۱. خبرول - کله چې تاسو ته معلومات درکړل شي نو په دې ترتیب سره تاسو پوهېږئ چې څنګه خدمتونه وړاندې کیږي.
۲. مشوره کول - کله چې خدمتونه ستاسو فیډبک یا د یو څه په اړه نظرونه وغواړي.
۳. ښکیلتیا - کله چې خدمتونه له تاسو سره کار کوي څو ډاډ ترلاسه کړي چې ستاسو نظرونه تل په پام کې نیول کیږي.

٤. همکاري کول – کله چې خدمتونه له تاسو سره د حل موندلو لپاره کار کوي.
٥. پیاوړی کول- کله چې تاسو د خدمتونو په اړه وروستی پریکړې کولو کې مرسته کوئ.

څومره چې کچه لوړه وي، هغومره پر پرېکړو باندې ستاسو نظر ډیره اغیزه لري.

ګډون په سازمانونو کې له مثبت بدلون سره مرسته کوي. چمتو کوونکي له ګډون څخه ګټه پورته کوي ځکه چې له دوی سره د کاروونکو پر اړتیاوو باندې د پوهیدو په برخه کې مرسته کوي او چمتو کوونکو ته اجازه ورکوي چې د کاروونکو له پوهې او تجربې څخه زده کړې څو ستونزې حل کړي، خندونه له منځه یوسي او خدمتونو ته وده ورکړي. هغه سازمانونه چې ګډون هڅوي اغیزمن او نوښتګر خدمتونه رامنځته کوي، د خلکو پر اړتیاوو په چټکۍ سره پوهیږي او د ستونزو مخه نیسي.

## تاسو له ګډون څخه څه ترلاسه کولی شئ؟

ګډون د ټولو خدمتونو پر کاروونکو باندې مثبته اغیزه لري ځکه چې دا کولی شي د خدمتونو د ښه والی لامل شي. خو تاسو له دخیل کېدو څخه خورا ډیره ګټه پورته کولی شئ، که دا مو په ځايي طبي تمرین یا خیریه مؤسسه کې وي. د مثال په توګه، تاسو کولی شئ:

- د خپلو حقونو، استحقاقونو او مسؤلیتونو څخه ښه خبر شئ.
- د هغو خدمتونو ښې پوهې ته وده ورکړئ چې تاسو ته وړاندیز کیږي.
- په هغه طریقه وواياست چې خدمات پلان شوي او وړاندې کیږي.
- په فعالیتونو او پیښو کې برخه واخلئ او د بیلابیلو بګروندونو له نوو خلکو سره لیدنه وکړئ او ستاسو په ځايي ټولنه کې له نورو خلکو سره اړیکه ونیسئ.
- د یو لړ شیانو په اړه د لارښوونو او مقرراتو لکه روغتیايي بیړني حالت سره اپډېټ اوسئ.
- د انګلیسي تمرین کولو لپاره ډیر فرصتونه ترلاسه کړئ، د نورو کلتورونو او دودونو په اړه زده کړه وکړئ او د نورو پر افکارو پوه شئ.
- په هغو برخو کې تجربه ترلاسه کړئ چې تاسو یې لیوالتیا لرئ او خپلو مهارتونو ته وده ورکړئ د بېلګې په توګه ستاسو د اړیکو او رهبری مهارتونه
- د خپلې ټولنې اړتیاوې په ښه توګه وپیژنئ. زده کړئ چې څنګه د سازمانونو سره د غوره خدمتونو په ډیزاین کولو کې د مرستې له لارې ستاسو د ټولنې استازیتوب او ملاتړ وکړئ.
- د وياړ او ځواکمنتیا احساس رامیځته کړئ ځکه چې تاسو د خدمتونو لپاره ډیر مسؤل یاست چې تاسو سره ستاسو په ټولنه کې په بریالیتوب سره یوځای کولو کې مرسته کوي.
- پر ځان بارو ته وده ورکړئ

لکه څنګه چې تاسو وینئ، ګډون ډیرې ګټې لري. په خدمتونو او ټولنو کې دخیل کیدل ستاسو لپاره یو ځانګړی فرصت دی چې په شخصي او مسلکي توګه وده وکړئ او د نورو په ژوند کې مثبته مرسته وکړئ.

تاسو په دې لړۍ کې نورې پاڼې لوستلی شئ څو د ګډون او د ګډون کولو د څرنګوالي په تړاو نور معلومات ترلاسه کړئ.